**د اسلامي خلافت د ړنګېدو له ۹۷ مې کليزې وروسته به : « پر نبوي طريقه بيا خلافت راځي»**




له شکه پرته، چې د خلافت اړوند حکمونه د فقهې، عملي برخه جوړوي او دا په عقيدې پورې اړونده موضوع نه شي کېدای. همداراز له دې څخه انکار نه شي کېدای چې اسلام د په عملي ډګر کې نه وي! د اسلامي شريعت د حکمونو پلي کول پر امت فرض کفايي دي، چې د امت په استازيتوب به خليفه د اسلام له حکمونو سره سم د دوی د چارو مشري کوي، د اسلام د بهرنۍ تګلارې په رڼا کې به نړۍ ته د اسلام پيغام رسوي او د هغو کسانو تګلارې به برنډه وي، چې د امت او د دوی د دين پر وړاندې دسيسې جوړوي.

اوسمهال د اسلام او مسلمانانو دښمنان د دې لپاره نه ستړي کېدونکې هلې ځلې کوي، چې اسلامي ژوند بيا را ژوندی نه شي. دوی د هجري قمري نېټې له مخې ۹۷کاله وړاندې نه يوازې دا، چې د مجرم مصطفی کمال په لاسونو يې د خلافت دولت ړنګ کړ، بلکې د اسلامي عقيدې له منځه وړلو او يا لږ تر لږه يې د مسلمانانو له زړونو او فکرونو څخه د دې مفکورې د ايستلو لپاره دسيسې جوړې کړې. دوی نه يوازې د اسلام حاکميت له منځه يووړ، بلکې د بشر په لاس جوړکړې قانون يې د لوېديځ له تمدن څخه موړ ته دپلي کېدو په موخه راوړ او اوس هڅې کوي،چې له يوې خوا د اسلام احکام تحريف کړي او له بل لوري د لوېديځ تمدن، زيانمنو افکارو ته حقوقي رنګ ورکوي.

امام ابو حامد الغزالي رحمه الله وايي: « حاکم او دين دواړه يو د بل لپاره لازم او ملزوم دي، دين اصل دی او سلطان يا حاکم يې ساتونکی دی. هغه څه چې اصل نه لري له منځه ځي او هغه څه چې ساتونکی نلري ضايع کېږي». نو ځکه لوېديځ د ساتونکي (حاکم) له ګوښه کولو وروسته د اسلامي عقيدې د منځه وړلو لپاره لستوڼي

بېڼ وهل او د مسلمانانو له زړونو څخه یې د عقیدې د ابستلو هڅې پیل کړې. کله چې د فکري جګړې، فاسد لوېدیځ پلوه تمدن او د نظامونو او قوانینو په تېلو سره بریالي نه شول، نو تر ببلابېلو سرلیکونو لاندې یې خپلو لاسپوڅو مسلمانو حکامو ته د جګړو د را منځته کولو دندې ورکړې، لکه څرنګه چې یې موږ په یمن، عراق، سوریه او لیبیا کې بېلګې وینو او بښه بېلګه یې د افغان هوایي ځواک له لورې د هیواد په شمالي ولایت کندز کې د مدرسې د فراغت پر مراسمو وروستی بمباري وه، چې په زیاته کچه د قرآن حافظان یې پکې شهیدان کړل، چې شمېر یې ۱۰۰ شهیدانو او ۵۰ ټپیانو ته ورسېد. دغه راز یې پوځونو زموږ په خاورو کې د نظامي اډو تر جوړولو وروسته خپلې بېلابېلې وژونکې وسلې د امت پر بچیانو وازمایلې.

خو باید ووایو چې نه امت مړ شوی او نه به هم ومري، ځکه الله سبحانه تعالی د دې دین د ساتلو ژمنه کړې او ان د ژوند ټولو برخو ته به یې بېرته راګرځوي:

**﴿یُرِیدُونَ أَن یُطْفِئُوا نُورَ اللَّهِ بِأَفْوَٰهِهِمْ وَیَأْبَى اللَّهُ إِلَّآ أَن یُتِمَّ نُورَهُۥ وَلَوْ كَرِهَ الْكَٰفِرُونَ ۞ هُوَ الَّذِىٓ أَرْسَلَ رَسُولَهُۥ بِالْهُدَىٰ وَدِینِ الْحَقِّ لِیُظْهِرَهُۥ عَلَى الدِّینِ كُلِّهِۦ وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُونَ﴾**

[التوبة:۳۲-۳۳]

*ژباړه: دوی غواړي چې د خولې په پوکیو سره د الله سبحانه تعالی نور مړ کړي، خو الله سبحانه تعالی به خپل نور په هر حالت کې پوره کړي، که څه هم کافران نه وي خوښ! هماغه الله دی چې خپل پېغمبر یې له هدایت او حق دین سره رالېږلی دی، تر څو چې هغه پر ټولو دینونو باندې برلاسی کړي، که مشرکانو ته هر څومره ناکاره و بربښي.*

نن ورځ اسلامي امت وحدت له لاسه ورکړی او په ډېرو وړو ټوټو وېشل شوی، چې د مېلادې نېټې له مخې یې له ۹۴ کلونو راهیسې خلافت له لاسه ورکړی دی. نور نو بس ده، اوس دا یو ښه فرصت دی، چې امت په ځیرکتیا او هوښیارۍ سره د یوې مخلصې سیاسي رهبرۍ تر شا یو موټی شي، ترڅو د امت پخوانی برم بیا راولي او د امت له شتمنیو څخه د خپلو بچیانو په ګټه کار واخلي. پر مسلمانانو باندې د دوی د دښمنانو له لورې نفوذ ته د پای ټکی کېږدي او د خپل رب شرعي حکمونه پلي کړي. له همدې امله روان کال حزب التحریر د خلافت د ړنګېدو په کلیزه کې مسلمانان د نړۍ په ګوټ ګوټ کې له ختیځه تر لوېدیځه سره را ټول کړل، چې په ګډه بیا اسلام را ژوندی کړي او د رېښتنې تګلارې پر مټ پر نبوي طریقه بېرته اسلامي ژوند راولي. د ترکیې په ښارونو، د عثماني خلافت په مرکز، د دغه هیواد په پلازمېنه، ختیځ او لوېدیځ کې، د فلسطین له زړه (القدس) څخه نیولې تر غزې، لبنان، سوډان او تونس پورې، له کایروان  څخه بیا تر مالیزیا او اندونیزیا پورې یې په دې اړه سمینارونه،

کنفرانسونه او بېلابېل لاریونونه تنظیم کړل او د رسنیو له لارې یې د اعلامیو په خپرولو سره خپل پیغامونه خپاره کړل.

موږ امت ته ډاډ ورکوو، چې د دغه ستر دین لپاره د خپل ځان په بیه قربانۍ ته تیار یو او هر هغه مسلمان ته چې له الله او د هغه له شریعت سره مینه لري د یوځای کار کولو بلنه ورکو، ترڅو د رسول الله صل الله و علیه وسلم دغه زېري ته عملي جامه ورواغوندو، چې وایي: « **ثُمَّ تَكُونُ خِلَافَةٌ عَلَى مِنْهَاجِ النُّبُوَّةِ**» بیا به د نبوت پر منهج خلافت راځي. همدا راز الله سبحانه و تعالی په دې اړه ژمنه کړې او فرمایي:

**﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾**

[النور:٥٥]

*ژباړه: الله سبحانه و تعالی له هغو کسانو سره چې ایمان یې راوړی او نېه عملونه کوي، وعده کړې چې هغوی په ځمکه کې هماغه شان خلیفه ګان وګرځوي لکه: له هغوی څخه چې مخکې تېر شوي خلك یې ګرځولې و. د هغوی لپاره به هغه دین پر محکمو بنسټونو ودروي چې الله تعالٰی ورته خوښ کړی دی او د هغوی د وېرې (اوسنی) حالت به په امن ورته بدل کړي .هغوی د زما بندګي کوي او له ما سره د کوم شی نه شریکوي او څوك چې له دې وروسته کفر غوره کړي، نو همداسې کسان فاسقان دي.*

یا الله سبحانه و تعالی! ستا ژمنه را نصیب کړې او موږ ته په هغه خلیفه سره عزت راکړې، چې ستا په کتاب او د رسول صلی الله علیه وسلم په سنتو امر کوي. ته د دغې ژمنې ساتونکی او پوره کوونکی یې. پاکوالی او ستاینه ده هغه چا لره چې هم په پیل او هم په پای کې د دواړو جهانونو پالونکی دی.

**لیکوال: د حزب التحریر- مرکزي مطبوعاتي دفتر ریس ډاکټر عثمان بخاش**

**No: 1439 AH /021**

**ژباړن: عبدالله لطفي**

**١٤٣٩ هـق، د رجب ٢٦ مه**

**٢٠١٨م، د اپرېل ١٣ مه**